
Ketabton.com
صوفي
مستان
نعمت الله رحیمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کتاب نوم: مستان صوفي

## ليکوال: نعمت الله رحيمي

## د نړۍ د هر ريښتني مئين په نوم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۰۱۹ز - کابل

د ژمي لومړۍ واوره وریدله، هوا ډیره سړه وه د کوټه سنګي ګڼه ګوڼه د موټړو هارن د خلکو شورماشور او د پولیسو د موټړ سایرن تر غوږ کیدو

په موټړ کې ناست یوه عسکر وویل:

- قومندان صیب! کۀ دا ریښتیا صوفي وای اوس بۀ پۀ داسې ګڼه ګوڼه کې بند نۀ پاتې کیدو

قومندان عسکر ته رډ رډ وکتل لا نور هم ورته ځیر شو او پۀ خندا یې وویل:

- هههههه! څه بلا یې

ټولو خندل له شیبې وروسته قومندان شاته ور وکتل ویې ویل:

- نجسه! پنځه میاشتې درپسې ګرځیدلي یو او تا لۀ ځان ډونګي پیر جوړ کړی د خلکو منځ کې پټ یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شيبه وروسته يې بيا وويل:

- مستان صوفي! خاورې صوفي وښايه خپل کرامات دا لاره خلاصه کړه

د قومندان خبره لا نۀ وه خلاصه عسکر وويل:

- قومندان صيب! پۀ څه سوچ کې غرق يې موږ حوزې ته را رسيدلي يو

قومندان حک حيران شو، ويې ويل:

- دا دننه بوځئ زه هم درځم

عسکرو مستان تر لاسو ونيولو او دننه ولاړل...

شيبه وروسته قومندان موټر چلوونکي ته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- موږ پهٔ ګڼه ګوڼه کې بند وو داسې نهٔ ښکاريده چې پهٔ يوه ساعت کې بهٔ هم لهٔ هغه ځای ووځو خو ځنګه داسې ژر را ورسيدو

موټر چلوونکی مُسک شو ويې ويل:

- قومندان صيب! حيران خو زه هم يم، خو له هغه وروسته زما هيڅ پهٔ ياد ندي چې څنګه تردې ځای را ورسيدو

قومندان روان شو لهٔ ځانه سره يې وويل:

- لکه چې لويه سهوه مو وکړه خدای د موږ وبښي

څو شيبې وروسته نظارت خونې ته دننه شو، مستان صوفي غلی ناست ؤ يو کال کيدو د مستان لهٔ خولې چا خبره نه وه اوريدلې، قومندان کښيناست ويې ويل:

- اصلي نوم د راته ووايه!

مستان غلی ؤ څه يې نهٔ ويل قومندان بيا وپوښتل:

- نوم د ووايه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو بیا هم مستان څه ونهٔ ویل د باندې ولاړ عسکر ته یې وویل:

- دا خبرې نهٔ کوي، خو زهٔ پوهېږم چې څنګه خبرې پرې وکړم ته دوسیه وګوره د هغې انجلۍ نوم څه ؤ؟

عسکر ولاړ څو شیبې وروسته بیرته را ستون شو ویې ویل:

- قومندان صیب! د انجلۍ نوم زهرا دئ

قومندان یې لهٔ ځای پاڅیدو بیرته نظارت خونې ته ولاړ کښیناست شیبه وروسته یې وویل:

- زهرا د ولې ووژله؟

مستان سر پورته کړ قومندان یې لهٔ ګریوان ونیولو ویې ویل:

- د ځان وژل دومره درته اسانه ښکاري؟

قومندان د مستان سرو سترګو ته پهٔ کتو وډار شو رنګ یې زیړ اوښتی ؤ ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ګوره! دا اوس د زما نهٔ د قانون ګريوان نيولی ؤ کهٔ وغواړم هرڅه درسره کولای شم خو بس يوه غوښتنه؟

- ووايه څه غوښتنه؟

- ماته خپله کيسه وکړه

مستان له شيبې چوپتيا وروسته وويل:

- څه چې کوې وکړه د هغې لهٔ يادونو مرګ ښهٔ دی مړ مې کړئ

قومندان د واره وويل:

- ستا دې د هغې پهٔ سر قسم وي ووايه، زهٔ صرف خپله دنده سرته رسوم

مستان قومندان ته ځير شو ويې ويل:

- شين چای دم کړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library


قومندان عسکر ته غږ کړ:

- دوه پیالې شین چای راوړه

مستان په غوصه وویل:

- په دوه پیالو کیسه نهٔ خلاصیږي

قومندان مُسک شو ویې ویل:

- سمه ده نور به بیا را وغواړم

څو شیبې وروسته چای را ورسید، مستان پیاله پورته کړ له چای یې غوړپ وکړ ویې ویل:

- ۲۰۱۵ز کال ؤ

له دې خبرې سره مستان غلی شو، قومندان وویل:

- همدومره وه؟ کیسه دې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



له شيبې چوپتيا وروسته يې وويل:

- ۲۰۱۵ کال ؤ، پهٔ خوست کې مو ژوند کولو موږ د پوهنتوني ځوانان له ډلې نهٔ وو، فراغت ته ځکه پهٔ تمه وو چې دوبۍ ته ولاړ شو له سره بهٔ کيسه درته وکړم...

يو غوړپ چای يې وڅکلو بيا يې پيل وکړ:

- لهٔ ښوونځي فارغ شوي وو، خو صرف پايلې نه وې راغلې چې کامياب يو کهٔ نه، سبا ته نتيجې راوتلې زهٔ او ملګری مې د کلي د جومات مخې ته ناست وو ملګري مې وويل:

- سبا له غرمې وروسته بهٔ ځو

- ولې؟ چيرته ځو؟

- يو کس مې د پيدا کړی ده د دوبۍ ويزا را وباسي، ته خو ښهٔ پوهيږې دولس کاله زحمت مو د دوبۍ لپاره باسلی

خبره يې راته درنه ښکاره شوه، سر مې وښورولو ومې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- والله! ریښتیا خو وایې باید لاس پکار شو

دلته مو خبرې خلاصې شوې، د ماښام لمونځ مو جومات کې وکړ او ملګرې مې عمر هم ولاړ زۀ هم خپل کور ته راغلم...

کلیو کې د شپې ډوډۍ وختي خوري، زما له رسیدو سره سم ډوډۍ تیاره وه، خیېتور ماما مې ناست ؤ تل بۀ موړ کره وو خو پۀ دې ورځ یې طبیعت راته خړ کړ ځکه پوهیدم کۀ د ماما مخ کې د دوبۍ خبره وکړم نو حتماً یوه خبره پکې کوي خو اړ وم ځکه سبا ته زموږ حرکت ؤ...

ډوډۍ مو خوړله ومې ویل:

- پلاره! زما کار څنګه شو؟

د پلار مې سترګې رډې رډې را ووتلې، خپلې ګوتې یې وښتلې ویې ویل:

- کوم کار؟ تا څه توره کړې؟ ته یو اضافي مصرف یې یو ورځ د کوم د ګټې کار کړی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زۀ غلی شوم، پۀ ویلو یې شرمیږم خو زما د پلار زما سره نۀ وه جوړه، تل یې راته ترخې خبرې کولې خو مشر وروړ مې بیا د کور خان ؤ ځکه د پلار عسکري یې کوله، د مجلسو او خلکو پۀ مینځ کې تل پلار ښکنځلم خو د ده راکړې تربیې نۀ پریښودم چې حتیٰ د یوې وړې خبرې ځواب یې هم ورکړم بس څه مې نۀ ویل پلار دئ نو، خیر خبره دلته وه چې پلار دا خبرې راته وکړې شیبه وروسته یې ما ته وویل:

- هغه... دوبۍ ته... تل وایې لۀ تا څه جوړ نۀ شول خو دوبۍ ته مې ولیږه

پلار مې پۀ غوصه وویل:

- نور څه خو نۀ غواړې؟

نور یې څۀ ونه ویل د دسترخوان لۀ سر را پورته شو او کۀ کاسه لاس ته ورغله او کۀ پیاله زۀ یې پرې وویشتم، لاس کې مې د پیالې ښیښې خښې شوې وې، د مخ نقشه مې بدله شوې وه خو ما یوه آه هم ونکړه دباندې انګړ ته ولاړم کښیناستم، زۀ خپل بخت ته حک حیران وم کله کله خو مې ګُمان کولو چې شاید زۀ بې اولاد نۀ یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دښمن يې يم ځکه که اولاد نه وم او پردی وم په پردي هم د چا پيرزو نشي داسې ظلم، او زما خو مياشت حتماً يو وار داسې حال کيدو، خير ناست وم د انګړ مينځ کې ونې ته مې تکيه کړې ځو شيبې وروسته مې يوازينۍ دُنيا زما مورکۍ راغله خپل د جامو ګنډلو له ماشين يې ورسره له ګنډلو جامو پاتې يوه ټوټه راوړه څنګ ته مې په سپيرو خاور کې کښيناسته لۀ لاس يې ښيښې راته وباسلې په ژړغوني غږ يې وويل:

- زويه! ته خو پوهيږې چې پلار دې...

خبره يې پوره نۀ شوه په ژړا شوه زما په غيږ کې يې سر را کيښود دې کلونو زړه ما هم تش کړ بې واکه مې وژړل...

څو شيبې وروسته مې مور زما له غيږې سر پورته کړ خپل د پلو غوټه يې خلاصه کړه ويې ويل:

- ته زما زوی يې، زما! نشتون دې زغمم خو نور دې نۀ پريږدم چې داسې ظلمونه دربانديې وشي، دا د سرو بنګړي دي، تر دوبۍ د نشي رسولای خو له دې ژوند بۀ خلاص شې، ولاړ شه د مور دعا دې درسره ده...

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور مې ولاړه، شيبه وروسته زهٔ هم خپلې خونې ته ولاړم، زړه مې ډېر ډک ؤ اوښکو مې بالښت لوند کړی ؤ، اوښکې مې پهٔ بالښت وچې شوې، شپه نو چيرته راته تم کيده، شپه سبا شوه، پلار مې سهار وخته تللی ؤ، خپل ګران زوی يې هم ورسره تللی ؤ هغه يې د هر سفر همسفر ؤ، خپل د ښوونځي کڅوړه کې مې خپل څو جوړه کالي واچول، له مورکۍ سره مې پهٔ سرو سترګو خدا پاماني وکړه، له هغه ځای د عمر سره ښوونځي ته ولاړم د آزموينو پايلې راغلې وې، له دولسم ټولګي پهٔ لومړۍ درجه فارغ شوم، پهٔ درسونو کې ښهٔ وم خو د پايلو پاڼې مې يوه ورځ پلار ونهٔ کتلې چا مې پهٔ سر د آفرينۍ لاس را کش نهٔ کړ ځکه راته پايلې تل بې مانا وې...

څو شيبې وروسته زهٔ او عمر لهٔ ښوونځي را ووتلو عمر دوبۍ ته روان ؤ، خو زما سره تر کابل د تګ پيسې هم نهٔ وې يوازې د مورکۍ بنګړي راسره وو چې ما يې د نهٔ پلورلو پريکړه کړې وه، خو ريښتني ملګري د انسان له رګ رګ خبر وي زما د لاس د ټپ پهٔ ليدو پهٔ هرڅه پوه شوی ؤ، د کابل ته تلونکو موټرو هډه کې وو چې عمر وويل:

- رنګ د ولې زيړ اوښتی؟ مستانه! تهٔ ما پردی ګڼې؟

- نه بس د کور او کلي پريښودلو لږ غمجن کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



- تهٔ خو پوهېږې زهٔ ورور نلرم، او ستا د ورور پهٔ شتون کې ورور نشته، کور کې څه درسره کېږي زهٔ خبر یم، پهٔ کلي کې بې لهٔ ما بل ملګرى نلرې، نو خبره د کلي او کور نده، تر هغې دوبۍ ته نهٔ ځو ترڅو مو ستا د تګ پیسې ندي پیدا کړې اوس کابل ته ځو دواړه کار کوو دواړه بهٔ ستا د تګ لپاره پیسې وګټو

د عمر ددې خبرو پهٔ اورېدو مې سترګې ډکې شوې، د ویلو او مننې لپاره الفاظ نهٔ وو، غلی پهٔ موټر کې ورسره کښیناستم...

څهٔ ناڅه لاره اوږده وه، د غرمې ډوډۍ مو نهٔ وه خوړلې ډیر وږی شوی وم، خو بس چې اوس پهٔ عمر باندې بوج وم نهٔ مې غوښتل د خوړلو لپاره څهٔ ترې وغواړم، عمر هم کوم د خان زوی نهٔ ؤ چې ما بهٔ یې پیسو ته سترګې پټولې، د لوږې د هیریدو لپاره مې ځان بوخت وساتلو د ښوونځي کڅوړه مې خلاصه کړه پهٔ یوه جیب کې زما څو جوړه جامې وې بل جیب مې خلاص کړ د کتابونو لهٔ مینځ د ډوډۍ بوی راغی یو کتاب مې پورته کړ یوه پلاستیکي کڅوړه کې کاغذ ښکاریدو کڅوړه مې خلاصه کړه، د کاغذ مینځ کې غوړې ډوډۍ وې، پوه شوم مور مې راته ایښې وې، مورکۍ پوهیده چې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



مظلوم زوی یې په لاره کې د لوږې ښکار کیږي، سترګې مې ډکې شوې، غوړه ډوډۍ مې راوخیسته عمر د موټر له کړکۍ د باندې کتل په اوږه مې ورته لاس کینود را ویې کتل ډوډۍ مې په مینځ نیمه کړه او نیمه مې عمر ته ورکړه، د ډوډۍ خوړلو وخت کې مې مخ بل خوا کړ ځکه د مور مهربانۍ د غریبۍ دې ډوډۍ مې سترګې له اوښکو ډکې کړې وې...

قومندان د مستان د خبرو په اوریدو خپه شو، سترګې یې ډکې شوې د باندې عسکر ته یې غږ کړ:

- نور چای راوړه

مستان مُسک شو ویې ویل:

- قومندان صیب لکه چې ستړی شوې زما له کیسې، هسې هم د غم کیسې د چا نهٔ خوښیږي!

قومندان د واره وویل:

- نه نه! دوام ورکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنډه شيبه وروسته مستان وويل:

- کابل ته را ورسيدو د خوست هډه کې ولاړ وو، خو زموږ لومړی ځل ؤ چې کابل ته راغلي وو، په پوښتنو پوښتنو تر جادې را ورسيدلو يو کس ويلي وو چې دلته کرايي خونې پيدا کيږي په يوه ودانۍ کې مو يوه خونه په کرايه ونيوله، دننه ولاړو، خونه د خونې په څير نهٔ وه خو زموږ له مجبورۍ ډيره ښه وه، اړ وو چې همدلته واوسو، غلي ناست وو زما خو خوله ځکه تړلي وه چې زما لپاره عمر هم پاتې ؤ، ځان راته بد ښکاريدو، دا سخته ورځ تيره شوه، خو نورې سختې هم مخ ته لرو نهٔ پوهيدو سهار ؤ، وختي د باندې ولاړو...

چای را ورسيدو، قومندان پياله د مستان مخ ته کيښوده، مستان وويل:

- پردی ښار، پردي خلک وو، نهٔ پوهيدو د کار لټولو لپاره چيرته لاړ شو، يو خوا بل خوا ګرځيدو چيرته هم کار پيدا نشو، د ماسپښين لمونځ مو يو جومات کې وکړ، خو ځنګه چې وخت نهٔ تم کيږي، ګيډه هم هغسې ده کهٔ پيسې لرې کهٔ نهٔ لرې، کهٔ خفه وې کهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحاله، خو ګیډه ډوډۍ غواړي، د عمر طرف ته مې وکتل ویې ویل:

- ولې برګ برګ راګورې؟

څه مې ونه ویل، خپل د واسکټ جیب ته مې لاس کړ، یو کاغذ مې ګوتو ته راغی رایاد شو چې همغه شلیدلې لس افغانۍ دي چې د کرکټ د بال د ټېپ لپاره مې ساتلې وې، خو! د مقدر لوبه وه په دې ورځ یې په درد وخوړل راته، عمر ته مې وویل:

- ته همدلته کینه، زه ژر راځم

ولاړم د سړک پر سر د رنګ رنګ خواړه پلورل کیدل، ځینې خو دومره رنګینه خواړه وو چې کله مې لیدلي هم نهٔ وو، او زما سره یو شلیدلی لسګون چې حک حیران وم څهٔ واخلم، یو خوا بل خوا مې وکتل د سړک بل خوا پیرکي پخیدل ور روان شوم، دري مې نهٔ وه زده پهٔ پښتو ژبه مې وپوښتل:

- وروره! دانه پهٔ څو دی؟

پلورونکي وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دانه ی ده روپه

لومړی ځل ؤ ښار ته راغلی وم، او لومړی ځل ؤ دري ژبه مې د چا لهٔ خولې واوريده، خو پهٔ " ده روپه" باندې پوه شوم، ومې ويل:

- يو دانه راکړه

- ميخوري يا ميبري؟

پهٔ دې خبره مې سر خلاص نهٔ شو، ځنګ ته يو بل کس خوړل هغه راته وويل:

- وايي دلته يې خورې کهٔ وړې يې؟

- وړم يې

له شيبې وروسته يې پهٔ يوه کاغذ کې پيرکی تاو کړ را يې کړ، لسګون مې ورکړ، روان شوم چې بيرته يې غږ وکړ بيرته ور وګرځيدم، پيرکې يې رانه واخيست او لسګون يې را وغورځولو، پوه شوم چې حتماً د زوړوالي لپاره نور نهٔ چليږي، بيرته د عمر خوا ور ستون شوم، عمر وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- چيرته تللی وې؟

ونشو ومې ويل:

- وړی وم تا خو غږ ونهٔ کړ زما سره يو زوړ لسګون ؤ ولاړم چې يو څه راوړم هغه هم زموږ لهٔ بخت ډېر زوړ شوی ؤ، چا نهٔ اخيستو

عمر غلی شو، لنډه شيبه وروسته يې وويل:

- وروره يو راز ووايم؟

- هو ووايه پيسې نشته اړ يو د يوبل خبرې وخورو

عمر بيا غلی شو، څو شيبې وروسته يې وويل:

- لهٔ ما سره ټولې دومره پيسې وې چې کابل تهٔ پرې راغلو او خونه مو پهٔ کرايه ونيوله، زهٔ هم لهٔ کور پټ راغلی يم څوک خبر ندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل تندی مې ووهلو ومې ویل:

- یا ربه! یو دا کم وو، اوس به څه کوو؟

عمر وویل:

- پیسې نلرو، خدای خو لرو، زوړ لسګون درسره وساته، هغه به ددې وخت یادګار شي اوس چې دواړه له کور تښتیدلي یو څه به کوو بیا به بیرته ځو

هیڅ مې ونهٔ ویل، شیبه وروسته بیرته روان شوو، دا ورځ هم تیره شوه، خو د خدای لهٔ پریکړو هیڅوک نهٔ وي خبر، موږ ته هم د هغې ورځې د لمر وړانګې ساده ښکاریدې خو هغه ځلا مو پکې ونهٔ لیده کوم چې زموږ مقدر یې بدلولو...

د کوم هوټل پهٔ خونه کې چې اوسیدو مالک یې راته وویل چې لږ مخکې چوک دی هلته لاړ شئ کار بهٔ پیدا شي، موږ نهٔ غوښتل د کار کولو یوه کوچنۍ لاره هم ورک کړو همداسې مو وکړل چوک ته ولاړو خو زموږ پهٔ څېر پهٔ سلګونو نور هم د کار لټولو پهٔ هیله د سړک پر سر ناست وو، ګړۍ وروسته یو کس راغی د کاریګرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پهٔ ګڼه ګوڼه کې یې هر یو کس ته بیل بیل کتل پر ما او عمر یې غږ وکړ مخکې ورغلو، ویې ویل:

- رنګمالي کولای شئ، ګورئ د یوې ورځې کار ندی کهٔ سم کار مو وکړ کیدای شي د تل لپاره مو وګمارم

د واره مې وویل:

- هو صیب! هرڅه چې وغواړې کولای یې شو

- سمه ده نو موټر ته را پورته شئ

موټر کې کښیناستو، څو شیبې وروسته ورسیدو پهٔ کار مو پیل کولو ومې پوښتل:

- وبښه صاییه! دا کوم ځای دئ؟

- کارته چهار دئ

- ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار مو پیل کړ د کابل کارته چهار سیمه موږ ته ډېره عجیبه ښکاره شوه ځکه لومړی ځل مو ؤ، او پاکه سیمه وه، مازدیگر ؤ، دوه پوړه رنګ شوي وو، د کور مالک راغی ویې ویل:

- ماشاءالله زما پهٔ زړه مو کار کړی دئ، خو اوس یې بس کړئ ناوخته ده

دوارو ته یې ۳،۰۰۰ افغانۍ راکړې ویې ویل:

- واخلئ ماشومانو ته مو څهٔ پرې واخلئ دا د مُرد پیسو کې نهٔ حسابوم

عمر رډ رډ راته وکتل ویې ویل:

- صايبه! ماشومان خو پریږده موږ لا کور نلرو دلته

سړي وویل:

- نو چې داسې ده ترڅو دا کارونه خلاصیږي، همدلته واوسئ د خوب ځای بهٔ درته برابر کړو مخامخ زموږ زوړ کور دئ بیا راشئ برستنې او نور شیان بهٔ درکړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړی روان شو، بیرته را وګرځیدو ویې ویل:

- هغه پیسې راکړئ تاسو ماشومان نهٔ لرئ نو

پیسې یې واخیستې او لاړ...

عمر ته مې پهٔ غوصه وویل:

- درئ زره وې، څه ضرورت ؤ چې ریښتیا ووایې؟

عمر غلی ؤ، شیبه وروسته یې وویل:

- زهٔ ځم اودس کوم

عمر ولاړ اودس یې وکړ او بیرته راغی، زهٔ هم ولاړم اودس او لمونځ مې وکړ، همداسې ناست وو، تیاره کیدونکې وه عمر وویل:

- لاړ شه بړستن، توشک، نرم بالښت راوړه

- یو شین چای بهٔ هم راوړم ځنګه د خوښه ده؟

- دا خو بهٔ لا ښهٔ شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زغله! زۀ ستا مزدور يم؟

عمر له شيبې چوپتيا وروسته وويل:

- ورور مې نۀ يې؟

مُسک شوم او روان شوم ترڅو دا څيزونه راوړم د کور دروازه مې ټک ټک کړه، شيبه وروسته مې د يوې انجلۍ غږ واورېد ويې ويل:

- څوک يې؟

- زۀ يم

- ته څوک يې نوم لرې؟

- مخامخ کور کې کار کوو د خوب لپاره...

لا مې خبره نۀ وه خلاصه ويې ويل:

- ښه خو ووايه چې رنګمال يم، ته څو شيبې تم شه زۀ يې راوړم

انجلۍ ولاړه، څو شيبې وروسته د دروازې لۀ شا غږ شو ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library


- لاس مې بند دئ، دروازه خلاصه ده کش يې کړه

دروازه مې خلاصه کړه، يوه معصومه انجلۍ مې وليده مخ يې پټ ؤ، سترګو يې څرک وهلو بړستنې يې راکړې ټيکرى يې لۀ مخ ولويدو، پۀ ليدو يې زما زړه د هغې پۀ پلو کې وليدو او زۀ ترې روان شوم...

بيرته ولاړم، داسې فکر مې کولو زما ښخه چې څه ورک وو پيدا کړي مې دي، هرڅه ښۀ ښکاريدل، يخ بادونه سره ګرمي، خواږه، ترخه هرڅه راته ښۀ ښکاريدل کۀ پۀ هغې وخت کې چا زما د وژلو کوښښ کړى واى هم ښۀ بۀ راته ښکاريدل، پۀ خيالونو کې يې ډوب وم چې عمر وويل:

- مستانه! چيرې يې؟

- چيرې بۀ وم ستا مخ کې يم

- پوهيږم خو څه سوچونه کوې؟

- هيڅ هسې بس

(c) ketabton.com: The Digital Library



لهٔ کلونو وروسته شپهٔ لهٔ یو ښهٔ احساس سره تیره شوه، تر غرمې کور رنګ شو او د کور د مالک پهٔ تمه ناست وو، له ډوډۍ خوړلو وروسته مې لمونځ وکړ خو نهٔ مې غوښتل لهٔ دې ځای لاړ شم داسې ښکاریدل چې د هغې سره مې د کلونو ریښې تړلې ګڼي پهٔ یوه نظر خو ځوک دومره نهٔ وصل کیږي بس همدا دعا مې کوله چې کاش پهٔ دې کور کې د پاتې کیدو یو پلمه پیدا شي...

ګړۍ وروسته د کور د مالک کوچنی زوی راغی، ویې ویل:

- پلار مې زنګ وهلی ؤ، چې تاسو بهٔ نور دلته اوسئ راشئ زموږ لهٔ کور د خونې لپاره فرش او نور سامان راوړئ

حک حیران شوم، چې دعا مې لهٔ خولې ووتله او قبوله شوه، ماشوم بیرته ولاړ عمر هم خوښ شو خو خبره لا نهٔ وه مالومه چې ولې یې موږ دلته پاتې کړو ځکه دې کور مالک تر راتګ پهٔ تمه وو چې خبره څه ده، مازدیګر ؤ، چې د کور مالک راغی ویې ویل:

- تاسو تراوسه باید خونه درته فرش کړې وای ولې ناست یئ، ورشئ هرڅهٔ راوړئ ترڅو دا کور پوره جوړیږي یو کال خو وخت نیسي لا پکې ډیر کارونه پاتې دي، ددې لپاره چې وساتل شي باید یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کس پکې ژوند وکړي موږ بوخت خلک یو لهٔ موږ نکیږي نو تاسو همدلته اوسئ د میاشتې بهٔ دوارو ته ۱۵،۰۰۰ افغانۍ تنخوا هم درکوم

ما او عمر یو بل ته وکتل، زما سترګې ډکې شوې د خدای مهربانۍ ته فکر وړی وم، هغه سختې چې مو څو ورځې تیرې کړې دومره ژر پهٔ اسانۍ بدلې شوې، له شیبې چوپتیا وروسته مې وویل:

- سمه ده، صايبه! خدای د خیر درکړي

صایب ولاړ...

ورځې تیرې شوې اونۍ تیرې شوې ۳ وخته ډوډۍ هم د صایب لهٔ کور راتله، ډوډۍ بهٔ دومره خوند نهٔ کولو څومره خوند چې بهٔ د لوښو پهٔ بیرته وړلو کې ؤ، خو زهٔ نهٔ پوهیدم چې د زهرا خیالات لوی دي او موږ یې د پلار نوکر یو، یوه میاشت تیره شوه د بلې میاشتې پهٔ لومړي تاریخ یې تنخوا راکړه ۱۰:۰۰ بجې عمر ولاړ ښار ته ځینې اړین څیزونه یې راوړل زهٔ پهٔ کور کې پاتې شوم، غرمه شوه خو عمر رانغی، د عمر موبایل ته مې زنګ ووهلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب یې ورنکړ چې شیبه وروسته دروازه ټک ټک شوه په منډه ورغلم ما ویل عمر به وي چې دروازه مې خلاصه کړه هغه وه، ډوډۍ یې راوړې وه، زه د هغې ښکلا ته فکر وړی وم، همداسې مې ورته کتل، غوږونه مې کاڼه شوي وو هغې څه ویل خو ما همداسې ورته کتل یو دم یې په لوړ آواز وویل:

- کوڼ یې؟ اورې! لاس مې وسوځیدل واخله

ژر مې وویل:

- آه! وبښه پام مې نه ؤ

- هو زه پوهیږم چې ستا پام چیرته ؤ

- چیرته ؤ؟

- ماته د کتل، د وړي نظر به نور چیرې وي؟

څه مې ونه ویل غلی وم، چې یو شړنګ شو، پیاله ولویده خو ما هغې ته کتل هغې وویل:

- کوڼ خو وې اوس ړوند هم شوې؟ وګوره پښه کې د ښیښې ننوتلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پهٔ منډه خپل کور ته ولاړه، شیبه وروسته بیرته راغله یو ټوټه یې پهٔ لاس کې وه ویې ویل:

- کورته دننه راشه دباندې خلک دي

کور ته دننه ولاړم، له پښې یې راته ښیښې وباسلې او ویې تړله، کټ مټ زما د مور غوندې وه، سترګو ته مې یې وکتل پوه شوم اوښکې پکې ښکاریدې زما هم سترګې ډکې شوې خو ځان مې کابو کړ ومې ویل:

- دومره زحمت د وباسلو، اړتیا نشته، زما تقدیر هم زخمي دئ، ښیښې او بدبختئ لهٔ کلونو پکې خښې دي..

څه یې ونهٔ ویل، ودریده او روانه شوه د دروازې خواته ودریده، څو ګامه مخکې راغله ویې ویل:

- د تقدیر ټپونه پهٔ دوا نهٔ جوړیږي، هرڅهٔ موقت دي، خو کهٔ بې باکه وې نو هرڅهٔ بهٔ تر پای درسره مل وي ستا بدبختي هم...

پهٔ منډه روانه شوه ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ځان ته پام کوه!

په نورو خبرو خو مې سر خلاص نشو خو د پام کولو خبرې يې ډېر خوند راکړ، ولاړم ډوډۍ مې وخوړله ناست وم، شيبه وروسته دروازه ټک ټک شوه عمر راغی خونې ته دننه کيدو وخت کې هغه مخکې روان ؤ زۀ يې شاته روان را ويې کتل ويې ويل:

- آه! تۀ ولې ګوډ ګوډ ځې؟ خيريت دی؟

- واه! پۀ داسې تګ کې خوند دی

- ماغزه د لۀ لاسه ورکړي دا څه وايې؟

- رک روغ يم! د مينې لومړۍ نښه ده، هر درد يې دوا ده

عمر مُسک شو څه يې ونۀ ويل، خونې ته دننه شو دواړه کښيناستو يوه کڅوړه يې را ډکه کړې وه ومې ويل:

- ريښتيا! دا دومره ډېر د څه راوړې؟

- هو ريښتيا نور يې څۀ کوې، دوه موبايلونه مې واخيستل دا ټچ سکرين دي

- پۀ څو د واخيستل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دواړه په ۱۰،۰۰۰ افغانۍ

- څه خر یې! د ټولې میاشتې خوارۍ پیسې دې برباد کړې؟

- ته پرېږده یاره! په کمپیناستلو ستړی شوم، دواړه به فیسبوک جوړ کړو سات به مو تیر وي

- زما دا شیان نهٔ خوښیږي

عمر ټینګار وکړ، فیسبوک یې راته جوړ کړو خو زما سر نهٔ پرې خلاصیدو یوه شیبه مې فیسبوک ښکته او پورته کړ خوند یې رانکړ موبایل مې کیښود او پر ما خوب غلبه وکړه، ویده شوم...

ساعت وروسته مې سترګې پرانیستې، عمر نهٔ ؤ، په سیمه کې یې ملګري پیدا کړي وو د مازدیګر وخت کې به د باندې تللو، پاڅیدم د ترسره کولو لپاره څه نه وو موبایل مې را واخیست لهٔ ځان سره مې وویل:

- ته راځه! یو وار وګوره دا فیسبوک مخکې خو یې خوند نهٔ ؤ

(c) ketabton.com: The Digital Library



فيسبوک مې خلاص کړ خو بدبختانه زهٔ پهٔ انګليسي نهٔ پوهيدم همداسې ځينې انځورنه پکې راتلل، يو بربنډ انځور راغی وارخطا شوم، هرڅهٔ مې کوښښ وکړ نهٔ ورکيدو، موبايل جام ؤ د بل څهٔ کولو ته مې فکر نهٔ ؤ موبايل مې د ځمکې وويشتلو او ټوټې ټوټې شو، ټوټې يې هغسې پر ځمکه پرتې وې زهٔ ولاړم چې اودس وکړم، ترڅو مې اودس کولو عمر راغلی ؤ، ويې ويل:

- ما ۱۰،۰۰۰ برباد کړي کهٔ تا ۵،۰۰۰ ؟

- بس اعصاب يې راته وخوړل ترڅو پهٔ کوم څه نهٔ پوهيدې بايد يې استعمال نکړې، او ماته ۱،۰۰۰ افغانۍ راکړه زهٔ سبا د انګليسې ژبې کورس کې داخله کوم چې اوس ټولې برباد نکړې

عمر د موبايل ټوټې ټولولې ما لمونځ وکړ، ماښام شو، او شپهٔ تيره شوه...

سهار ولاړم، د انګليسي ژبې کورس کې مې داخله وکړه لومړۍ ورځ ښه تيره شوه ځکه زهٔ ډېر لهٔ کور دباندې نهٔ تللم دا لومړی ځل ؤ ځينې ملګري مې هم پيدا کړل...

(c) ketabton.com: The Digital Library



اته میاشتې تېرې شوې، انګلیسي مې څهٔ ناڅه زده کړې وه خو د انګلیسي ترڅنګ مې دري وړیا زده کړه، مینه هغسې ځای پر ځای پاتې وه زهٔ خو هسې خدای ګونګی کړی وم خو هغې هم هیڅ نهٔ ویل د کور لهٔ دوهم پوړ د هغوی د کور انګړ ښکاریدو کله بهٔ مې چې مطالعه کوله دوهم پوړ ته تللم، له کتاب مې ډېر د هغوی انګړ ته ور کتل خو کله بهٔ چې هغه راغله زما زړه بهٔ درزیدو چې ومې نهٔ ګوري ځکه بهٔ بیرته د لاندې راغلم، وخت تیریدو، د انګلیسي ژبې له زده کړې دولس میاشتې تېرې شوې، د فراغت محفل ؤ د ټل پهٔ ځېر زه پهٔ لومړۍ درجه فارغ شوم، خو د فراغت د سند تر څنګ مې پهٔ همغه کورس کې دنده ترلاسه کړه...

لهٔ دندې مې یوه میاشته تیره شوه، د لومړۍ میاشتې تنخوا مې واخیسته اوس نو تر ډېره د ټولنیزو رسنیو پهٔ استعمال پوهیدم ځانته مې موبایل واخیست، پر فیسبوک مې د "مستان صوفي" پهٔ نوم حساب پرانیست لومړۍ بلنه مې عمر ته ولیږله لهٔ کمې مودې وروسته زهٔ او عمر دومره مډرن شولو چې مخامخ بهٔ ناست وو خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر میسنجر بهٔ مو پیغامونه یوبل ته لیږل، همداسې یوه شپه ناست ؤ عمر پیغام را ولیږلو:

- دا ستا معشوقه ماته سمه نهٔ ښکاري

موبایل مې کیښود مخامخ مې ورته وویل:

- ولې څه ستونزه ده؟

- ته خو ټوله ورځ دنده کې وې خو زهٔ یې وینم رنګ رنګ موټر راځي کله یوه کې ځي کله بل کې

حک حیران شوم، خو ما پهٔ خپله مینه شک نهٔ شو کولای ومې ویل:

- نالیدلی قضاوت مکوه!

- بس زړه دې خو مخکې ددې چې د بل شي اظهار وکړه، تهٔ خو ډېر ډارن یې

څه مې ونهٔ ویل، کهٔ څه هم شک مې نهٔ کولو خو شپهٔ پهٔ همدې سوچونه سبا شوه چې " دا بهٔ څوک وي، بل چاسره خو بهٔ مینه نلري؟... "

(c) ketabton.com: The Digital Library



سهار دندې ته تللم، دريشي مې اغوستې وه، روان وم چې عمر وويل:

- ياره هسې دباندې ځې هغه لوښي هم يوسه

لوښي مې له ځان سره واخيستل خو زړه مې درزيدو ځکه دريشۍ کې راته ځان لږ بل ډول ښکاريدو خو د دندې اصول وو، اړ وم، دروازه مې ور ټک ټک کړه خلاصه يې کړه لوښي مې ورکړل څه مې ونهٔ ويل روان شوم غږ يې کړ:

- دريښي سره ښکلی ښکارې!

خوښ شوم! او دندې ته روان شوم، مازديګر بيرته کورته را روان وم، پهٔ لاره بهٔ مې سر ښکته اچولای ؤ کور ته نږدې وم يو غږ شو:

- مستانه!

ور ومې کتل عمر ؤ، څو ګامه مخکې ورغلم ومې ويل:

- څهٔ دي؟ ته لکه چې ټوله ورځ دباندې وې نهٔ پوهيږې چې د کور د ساتنې لپاره پيسې راکوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نه ياره دا اوس راغلم، او د كور د مالک پكار وې

- ښه سمه ده، ورځم

كور ته ولاړم شيبه وروسته صايب هم راغی څو شيبې مو ځينې خبرې وكړې، د تګ وخت كې يې وويل:

- هغه زما لوركۍ نوې پوهنتون كې داخله كړې انګليسي ژبه كې ستونزه لري كهٔ ته ورسره لږ مرسته وكړې...

پهٔ زړه كې خوښ شوم، خو د زړه عكس العمل مې پر څيره خپور نهٔ كړ ومې ويل:

- سمه ده صايبه! نور د همدا وخت راځي زهٔ بهٔ خپل كوښښ وكړم ورسره

كورته دننه ولاړم، او لهٔ خوشحالۍ مې زړه ټوپونه وهل، ورځ پهٔ ورځ مې ژوند ښهٔ كيدو، خو همداسې بهٔ دوام ولري يا نه مور نهٔ پوهيدو...

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبا مازدیګر له دندې بیرته کورته راغلم، عمر د کور انګړ کې ناست ؤ زهٔ دننه تللم ویې ویل:

- پیکی د سم کړه، شاګرده دې درته پهٔ تمه ده

مُسک شوم، خونې ته دننه شوم خپل بیک مې کېښود د درس لومړۍ ورځ پهٔ خوښۍ پای ته ورسیده کله چې بیرته تلله ویې ویل:

- کهٔ پهٔ درسونو کې مې ستونزه درلوده نو څنګه یې درته ووایم؟

- کور مو مخامخ دی، یو ځل راځه

- هرځل چیرته راتللی شم، انجلۍ یم خلک خبرې کوي، کهٔ خپله د واتسپ شمیره راکړې

له خوشحالۍ مې ژبه ګونګۍ شوه، پهٔ کاغذ مې ورته شمیره ولیکله کاغذ مې ورکړ...

د شپې ډوډۍ مو وخوړله، عمر لوښي وینځل زهٔ خونه کې ناست وم او فیسبوک مې کتلو چې د واتسپ د پیغام شړنګ شو خلاص مې کړ، نوې شمیره وه د انجلۍ انځور یې پر پروفایل ؤ، پوه شوم چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زهرا ده، ځکه ما خو کومې بلې انجلۍ ته شمیره نهٔ وه ورکړې، پیغام پاڼه مې خلاصه کړه لیکلي وو:

- سلامونه

ځواب مې ورکړ:

- وعلیکم سلام!

شیبه وروسته پیغام وکتل شو، بیا ځواب راغی:

- څنګه یې رنګماله؟

دې خبرې یې دومره خوند رانکړ، داسې ښکاریدل چې ملنډې راباندې وهي، خو د همغې رنګمالۍ لهٔ برکته مې دومره پرمختګ کړی ؤ، ځواب مې ورکړ:

- ښه یم! ته څنګه یې د صاحب لورکۍ؟

- زهٔ هم ښه یم، یو څه وپوښتم؟

سوچ مې کولو چې څه پوښتنه کوي ومې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هو مهرباني!

شيبه وروسته بيا پيغام راغی:

- ته ولې هر ځل د دوهم پوړ له کړکۍ پټ پټ راګورې؟

حيران شوم، چې خنګه يې ليدلی يم، ومې ليکل:

- زه مطالعه کوم! چاته مې ندي کتلي

- ګوره زړه دې همدا د چانس دئ چې ووايې

څو شيبې مې ځواب ورنکړ خو زړه مې نه صبريدو بيا مې وليکل:

- څه ووايم؟

پيغام يې وکتلو، څو شيبې وروسته ځواب راغی:

- اوس څه نه وايم سبا مازديګر به مخامخ خپل د زړه خبره راته کوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره یې وکړه او آفلاین شوه، زما په اوږو یې غرونه غرونه بوج واچولو او هغه ویده شوه، زهٔ ټوله شپه په همدې اندیښنو سر وم چې ځنګه ووایم ورته خپل د زړه خبره ځنګه ووایم...

ورځ مې هم همداسې تیره شوه، بیرته کور ته را روان وم په ځان مې ډېر فشار راوړی ؤ غوښتل مې ووایم چې په لاره کې یو موټر په تیزۍ سره تیر شو، مردارې اوبه زما خوا ته وشیندلې، غوصه شوم غږ مې کړ:

- عقل لرې؟ په لاره انسانان روان دي، حیوانان نه!

موټر بیرته را وګرځیدو کس ښکته شو، او په مخ یې په سوک ووهلم، بیک مې رانه پر ځمکه ولوید بیرته مې پورته کولو چې له موټر یوه انجلۍ ښکته شوه هلک ته یې وویل:

- راځه نو! پرېږده یې کم عقل خلک دي

سر مې پورته کړ ور ومې کتل، زهرا وه، رنګ یې زیړ واوښت هیڅ مې ونهٔ ویل او همداسې روان شوم...

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناهیلی شوم، زما د خوبونو نړۍ زما پهٔ شتون کې نړیدله خو ما هیڅ نشو کولای، هرڅه بې خونده او خړ پړ ښکاریدل، نهٔ مې د څهٔ خوړلو ته زړه کیدو نهٔ د کوم کار ترسره کولو ته، دنده مې پریښوده، میاشتې تیرې شوې د هغې مخ ته مې لا ونهٔ کتل، د هغې د هیرولو پریکړه مې کړې وه، آنلاین مې یوه دنده پیدا کړه، آنلاین سټاک مارکیټ کې مې خپل د بانکي حساب ټوله ګټه وټه ولګوله، کوم Shares چې ما سهار اخیستي وو، مازدیګر یې بیه څلور برابره شوې وه، نهٔ پوهیږم څه وشول خو شیبه پهٔ شیبه ګراف لوړ تلو، سهار مې اخیستي Shares وپلورل، پهٔ ۲۴ ساعتونو کې مې ۱۴ لکه افغانۍ وګټلې، عمر مې هم پهٔ دې کار بوخت کړ پهٔ یوه میاشت کې زه میلیونر شوی وم، هغه د غریبۍ او بې کسۍ ورځې دا ځل بیخي پهٔ خلاصون وې، خو هغه مې لهٔ زړه نهٔ وتله...

د ۲۰۱۸ز کال لومړۍ ورځې وې، مور د دومره پیسو پهٔ لرلو سره لا پهٔ همغه کور کې اوسیدو، د غرمې وخت ؤ ډوډۍ مو خوړله چې دروازه ټک ټک شوه زه ورغلم خلاصه مې کړه د زهرا پلار ؤ څو نور کسان ورسره وو کور یې وکتلو هغه کسان ولاړل د زهرا پلار ته مې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دوی څوک وو؟

- دا کور خرڅوم دوی يې اخلي ځکه يې وکتلو

غلی شوم، له دې ځای تګ راته سخت ؤ، زهرا کۀ هر څنګه وه ما مينه ورسره کړې وه او مينه مې ورسره لرله، شيبه وروسته مې وويل:

- وبښئ! پۀ څو يې خرڅوئ؟

- ۵۵،۰۰۰ ډالر ، ههه اخلې يې

د واره مې وويل:

- ۶۰،۰۰۰ درکوم کور زمونږ شو!

د زهرا پلار حيران شو ځکه زمونږ لۀ ګټې لا څوک نه وو خبر بس سر يې وښورولو هو يې وويل، څو شيبې وروسته د بانک پۀ لور روان شوم، پۀ لاره کې مې زهرا وليده خو لۀ يو بل هلک سره، د زړه زخمونه مې داسې بار بار تازه شوي وو لومړی ځل خو نۀ ؤ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګړۍ وروسته لهٔ بانک بيرته را ستون شوم تر سبا د کور اخيستلو چارې سرته ورسيدې...

لهٔ عمر سره ناست وم لهٔ ځانه سره مې ويل:

- آه! زهٔ خو رنګمال يم، تهٔ خو د مالدار پلار لور يې، تاسو هوښيار او موږ کم عقل خلک يو

عمر وويل:

- دا څه ګډوډ لګيا يې؟

غلی وم شيبه وروسته مې وويل:

- راځه يو کار دئ

- څه؟

- ته غلی شه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولاړو له بانک مو یو څه پیسې را وویستې او یو تر ټولو نوی ماډل موټر مې واخیست او بیرته کورته راغلو، د شپې ناست وو عمر وویل:

- وروره! څه ستونزه لرې؟ ټولې پیسې دې برباد کړې؟

غلی وم، لنډه شیبه وروسته عمر وویل:

- زهٔ ستا پهٔ ستونزه پوه یم، دا هرڅه د هغې زهرا له قصده کوې، ما لومړیو کې درته ویلي وو چې دا انجلۍ راته سمه نهٔ ښکاري خو ته پهٔ مینه کې ړوند شوی وې

یوه شیبه غلی شو بیا یې وویل:

- غچ داسې نهٔ اخیستل کیږي، خپل د ماسټر کارټ شمیره ووایه، څهٔ مې ونهٔ ویل، ماسټر کارټ مې ور وغورځولو شیبه وروسته یې زما موبایل ته یو اپلیکیشن ولیږلو ویې ویل:

- واخله پهٔ ۷.۹۹ ډالره مې واخیست ددې پهٔ واسطه یې پوره موبایل حیک کولای شې صرف یو پیغام ورته واستوه چې خلاص یې کړي، ټول موبایل بهٔ یې ستا واک کې وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هيڅ مې ونهٔ ويل برستن مې پر ځان کش کړه او ويده شوم، سهار وختي پاڅيدم عمر مې هم راويښولو خو نهٔ راويښېدو يو ځل يې برستنې سر را وباسو ويې ويل:

- پرېږده ياره چې ويده شم تر ۳:۰۰ بجو ويښ وم

برستن مې ترې را کش کړه او ايسته مې وغورځوله ومې ويل:

- ځان تيار کړه خوست ته ځو

يو دم عمر وويل:

- وروسته لهٔ دريو کالو ځې خيريت خو دئ، پهٔ دريو کالو کې د يو تش زنګ کور ته وهلی؟ نهٔ پوهيږې چې زهٔ او ته را تښتيدلي يو

عمر د نهٔ تللو ضد وکړ، خو پهٔ زوره مې موټر کې کينولو وروسته لهٔ دريو کلونو خپل کلي ته روان وو

اوږد سفر ؤ، ماسپښنين ورسيدو، کلي کې ډېرو خلکو نهٔ پيژندو ځکه موږ او زموږ ځېرو ډېر تغئير کړی ؤ، عمر مې د خپل کور مخ ته لهٔ موټر ښکته کړ، زهٔ د خپل کور خوا ته روان شوم، لهٔ کور څو

(c) ketabton.com: The Digital Library



متره ها خوا ودریدم، د کور مخ کې مې مورکۍ ولیده یو ماشوم یې غیږ کې ؤ، په الله مې توکل وکړ موټر ته مې حرکت ورکړ د کور دروازې سره ودریدم د لهٔ موټر ښکته نهٔ شوم، د موټر ښیښې توري وې مور ونهٔ لیدم خو مور مې پهٔ ماړه زړه ولیده سترګې مې ډکې شوې، ځکه دوی چې کوم د غریبۍ ژوند کولو او کوم ژوند چې ما لرلو ځمکه او اسمان یې توپیر درلود، څو شیبې وروسته لهٔ موټر ښکته شوم، مورکۍ مې راته ځیر شوه شیبه وروسته یې پهٔ ژړغوني غږ وویل:

- مستانه! زویه...

پهٔ ژړا شوه...

څو شیبې وروسته یې وویل:

- راځه زویه دننه راشه، مور دې درته لوګی شي

دننه روانیدم، ومې ویل:

- مورې دا ماشوم څوک دئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



مورکۍ مې ماشوم په غیږ کې واخیست ویې ویل:

- ۳ کاله تیر شول، ورور د واده کړی دا ستا وراره دی

کور ته دننه شوم، پلار مې په انګړ کې ناست ؤ، ویې ویل:

- څوک راغلې؟

مورکۍ مې څۀ ونۀ ویل، څو ګامه مخکې ولاړم، د پلار لاس مې ښکل کړ، ومې ویل:

- ستا همغه بې کاره او روزګاره زوی مستان یم

پلار مې څو شیبې غلی ؤ، شیبه وروسته یې ژړا کابو نۀ کړه بې اختیاره اوښکې یې پر مخ روانې وې، په ژړغوني غږ یې وویل:

- ما وبښه زۀ ستا ګنهکار یم

د پلار لاس مې کلک ونیولو ومې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- استغفرالله! خدای ته وګوره داسې مه وایه زهٔ ستا اولاد یم تهٔ پر ما پوره حق لرې

ورځ پهٔ خوښۍ سره شپه شوه، ډوډۍ مو خوړله پلار ته مې وويل:

- پلار جانه! يو څه وايم خو نه بهٔ پکې نهٔ وايې

- ځار د شم زویه ووایه څه وایې؟

- پلاره کابل کې مې کور اخیستی، سبا بهٔ هرڅه ټول کړو او نور بهٔ هلته اوسېږو، د خرڅ او خوراک غم مهٔ کوئ ترڅو ژوندی یم هرڅه زهٔ کوم

پلار مې راسره خبره ومنله، سبا لهٔ کورنۍ سره کابل ته راغلو، کور کې هرڅه ځای پر ځای شول زموږ کلي کې نېټ کار نهٔ کولو څو ورځې کیدلې خپل د ټولنیزو رسنیو حسابونه مې نهٔ وو چیک کړي، ډېټا مې روښانه کړه ډېر نالیدلي پیغامونه مې وکتل، د پیغامونو مینځ کې د زهرا پیغام ؤ لهٔ ډېرو مودو وروسته یې پیغام لیږلی ؤ، ومې کتلو لیکلي وو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- تهٔ خو پهٔ هوا ګرځې، لهٔ هغه ورځې وروسته د بیا یو سلام هم ونهٔ لیږلو، یو ځل د ونهٔ پوښتل چې زما زړه کې څهٔ دي، درسونه لهٔ لومړۍ ورځې وروسته ځای پر ځای پاتې شول

یو بل پیغام یو ساعت وروسته راغلی ؤ:

- زهٔ درسره مینه لرم!

وروسته لهٔ هغه پیغام واټسپ بند شوی ؤ، پهٔ منډه ولاړم د زهرا د کور دروازه مې ټک ټک کړه څو شیبې پهٔ تمه شوم دروازه خلاصه نشوه، بیا مې ټک ټک کړه خو داسې ښکاریدل چې پهٔ کور کې څوک نشته وو، د یوه بل کور دروازه خلاصه شوه یو کس غږ کړ:

- څه شور د جوړ کړی، هغوی نشته

ور ومې کتل ومې ویل:

- چیرته تللي خبر لرې؟

- آه! نهٔ یې خبره یوازینی پیغله لور یې مړه شوه، خلک وایي ځان وژنه یې کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پهٔ سترګو مې تياره شوه، ژبه مې پهٔ ريښتيا ګونګۍ شوه، تر کوره پهٔ ډېرو ستونزو ولاړم، خونې ته دننه شوم او ځاى پر ځاى ولويدم، نهٔ پوهيږم چې څو ساعته يا څو ورځې بې هوښه وم، کله مې چې سترګې پرانيستې د کور پهٔ انګړ کې شور ما شور ؤ، د زهرا د پلار غږ مې واوريدو ويل يې:

- لهٔ ډېره وخته مې پام ؤ د مستان پرې نظر ؤ، زما لور ښه انجلۍ وه د مستان د بدو ارادو د ښکار کيدو پر ځاى يې ځان وژنه غوره وګڼله، خو زهٔ يې نهٔ پرېږدم لور ته مې انصاف ورکوم

غوصه وم د باندې ولاړم، يو لرګى پهٔ لاس راغى او د زهرا پلار مې پهٔ سر ووهلو پر ځمکه وغورځيدو زهٔ وارخطا له کور دباندې ولاړم، لهٔ هغې ورځې راهيسې زهٔ د غرو او رغو شوم پهٔ يوه ځاى کې مې د زړه سکون نشته ؤ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



قومندان يې د سترګو اوښکې پاکې کړې، دباندې عسکر ته يې غږ کړ:

- سرتيريه! راشه پيالې يوسه

عسکر دننه راغی ويې ويل:

- قومندان صيب! مخکې مو وويل چې مزاحمت ونهٔ کړئ ځکه مې څهٔ ونه ويل خو مخکې لهٔ قومندانۍ زنګ راغلی ؤ ويل د زهرا قضيه وتړل شوه، پلار يې شکايت بيرته اخيستی...

- خو ولې؟

- وايي لور يې ځان وژنه کړې، په مستان باندې له تور لړولو وروسته يې خوبونه حرام شوي

شيبه وروسته مستان وويل:

- خو ولې يې ځان وژنه کړې؟

ددې خبرې خواب بې له خدای د بل چاسره نه و، شايد ددې مينې پای هم دا و، د زهرا خبره په نړۍ کې هرڅه موقت دي، خو مينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



موقت کيدای نشي که ورته ورسيدې ټول عمر به خوشحاله وې او که ونه رسيدې نو ټول عمر به يې يادونه هره ورځ وژل کوي...

(c) ketabton.com: The Digital Library


# پـــــــای!

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**